# يوه بنده په ګناه کولو سره ګناه وکړه او ويې ويل: اې الله ماته زما ګناه وبخښه

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی (هغه) له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په هغه څه کې روايت کوي چې هغه يې له خپل رب څخه حکايت کوي، وايي: « يوه بنده په ګناه کولو سره ګناه وکړه او ويې ويل: اې الله ماته زما ګناه وبخښه، نو الله تبارک وتعالی وفرمايل: زما بنده ګناه وکړه او پوهه شو چې يو رب يې شته چې ګناهونه بخښي او په ګناه نيول کوي، بيا راوګرځيد او ګناه يې وکړه، ويې ويل: اې ربه! ماته زما ګناه وبخښه، رب العزت وفرمايل: زما بنده ګناه وکړه، او پوهه شو چې هغه يو رب لري چې ګناهونه بخښي، او په ګناه نيول کوي، بيا راوګرځېده ګناه يې وکړه او ويې وييل: اې ربه ! ماته زما ګناه وبخښه، نو الله تبارک و تعالی وفرمايل: زما بنده په ګناه کولو سره ګناه وکړه، نو پوهه شو چې هغه يو رب لري چې ګناهونه بخښي او په ګناه نيول کوي، څه دې چې خوښه وي هغه وکړه، ځکه چې ما تاته بخښنه کړې ده».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل رب څخه روايت کوي چې کله يو بنده ګناه وکړي او بيا ووايي چې: اې الله! ما ته زما ګناه وبخښه، الله تعالی وفرمايي- زما بنده ګناه وکړه او پوهه شو چې هغه يو رب لري چې ګناه بخښی، نو پرده پرې واچوي او ورته ترې تېر شي، او يا پرې سزا ورکوي، - (بيا وفرمايي) ما هغه ته بخښنه وکړه. بيا بنده راوګرځېد او ګناه يې وکړه، ويې وييل: اې ربه زما! ماته زما ګناه وبخښه، نو الله تعالی وفرمايل: زما بنده ګناه وکړه، نو پوهه شو چې هغه يو رب لري چې ګناه بخښي - نو پرده پرې واچوي او ورته ترې تېر شي - او يا پرې سزا ورکوي (نو وفرمايي) يقينا چې ما مې خپل بنده ته بخښنه وکړه. بيا راوګرځېد ګناه يې وکړه، ويې وييل: ربه ماته زما ګناه وبخښه، نو الله تعالی وفرمايل: بنده مې ګناه وکړه، نو پوهه شو چې هغه يو رب لري چې ګناه بخښي، نو پرده پرې واچوي او ورته ترې تېر شي، او يا پرې سزا ورکړي (نو وفرمايي) يقينا چې ما مې بنده ته بخښنه وکړه، نو څه چې غواړي هغه دې وکړي تر څو پورې چې هغه ګناه وکړي، نو ګناه پرېږدي، پښېمانه شي او هوډ وکړي چې بيا به (ګناه کولو ته) نه ورګرځي، خو نفس پرې غالبه شي، نو په ګناه کې يو ځل بيا ښکېل شي، نو تر څو پورې چې داسې کوي؛ چې ګناه کوي او توبه وباسي، نو زه به ورته بخښنه کوم، يقينا چې توبه له هغې مخکې هر څه ويجاړوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4817

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee